سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۷/۲۱

# ښاغلی پدرام ته مشوره:

زما پـــدرامـه قهرمـانه اشنا          پـه خپلـو خـلـکـو مهربانه اشنا

منکر لـه نـومـه د افغانه اشنا          د لیـونتـوب پـه لار روانه اشنا

یـو کرت بیا فکر لـه سره وکړه
سوچ لـه ماښامه تر سحره و کړه

** ** **

که یو پښتون تاته افغان ښکاری          که تش تاجک درته خپل ځان ښکاری

که درتـه بـد افغانستان ښـکاری          که درته سم نوم خراسان ښکاری

نو دا منطق غواړی برهان غواړی
پریکړه د ټـول افغانستان غواړی

** ** **

ګوره اشنا دلته تاریخ پروت دی          دی لوړو غرو کی ډیر پردي مات شوی

په دی درو کی د پردیو سرونه          لکه منګی لکه کودي مات شوی

که ته افغان نه یی افغان مه اوسه
که زړه دی غواړی مسلمان مه اوسه

** ** **

خو پام په دی وطن کی نور قومونه          لکه ځـو تـنـه احمقان مـه ګـنـه

لکه د ځان په خیر پنځه لیوني          داسی له مخي لـیونیان مه ګنه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

دلته هوښيار هوښيار سرونه شته دی

دلته بيدار لوی شخصيتونه شته دی

** ** **

دا د تاريخ دا د جرګو وطن دی　　دلتـه اصول د افغانيت چليږی

چی دی کودونو نه وتلی دی ځوک　　دي شرميدلي هم به وشرميږی

نو مه دی ځان مه دی ياران شرموه

مه نور ايران مه پاکستان شرموه

** ** **

پدرامه ! بی د افغانيت له نومه　　ته بی هويته يی هويت نه لری

که له ځان لری کړی دا نوم بناغليه!　　يی بی شخصيته بل شخصيت نه لری

پــام لـيـونيه! ځان برباد نکړی

نـور پلويـان هم بی بنياد نکړی

** ** **

تاجکستان د تاجکانو ملک دی　　ترکمنستان د ترکمنانو ملک دی

ازبکستان د ازبکانـو وطـن　　قرغزستان د قرغزانو ملک دی

خراسان هلته په ايران کی پروت دی

لکه لاهور چی پاکستان کی پروت دی

** ** **

په دی وطن کی ټول پراته قومونه　　دي سره ورونه افغانان دی واړه

له بابا دمـه تر دی دمـه پـوری　　سره يوتن سره يوځان دی واړه

د يـو بـدن غـړی بيلـيـږی کله؟

د بـل بـدن سره يوکـيـږی کله؟

** ** **

پدرامه نوم دی په دی نه غځیږی        چی افغانیت نه تاجکان محروم کړی

دادی لـه وسـه پوره هم نـه ده        چی خپل وطن نه افغانان محروم کړی

نو اشنا! رحم په خپل ځان وکړه

درنښت د لوی افغانستان وکړه

** ** **

**دی کی دی ګټه ده پدرامه اشنا**

**د لیونیو قهرمانـــه اشـنا!**

تورنتو ـ کاناډا ــ جولای ۲۰۱۸